# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**19سرطان_سال 1403**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


رییس امور مهاجرین ولایت ننگرهار، با وزیر امور مهاجرین دیدار کرد ---------------------------------------------- 1

د اداري او مدیریت د اساسي اصولو ښوونیز ورکشاپ پای ته ورسید ------------------------------------------------ 1

۸ خانواده در ولایت غزنی کمک نقدی دریافت نمودند -------------------------------------------------------------- 2

بیش از۲ هزار تن مهاجر از کشور های پاکستان و ایران به کشور برگشت نمودند ------------------------------------ 3

نشست کمیته استقرار مجدد در ولایت بدخشان برگزارشد -------------------------------------------------------- 3

بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت بغلان کمک شد ---------------------------------------------------------------------- 5

د ډوبلین په کروکسلینک کمپ کې د کډوالو حالت: هغه پنډغالی چې «د اوسېدو وړ نه دی» -------------------------- 5

د برېتانیا نوی لومړی وزیر وايي روندا ته د کډوالو د استولو پروګرام لغوه کوي -------------------------------------- 12

دو کشتی آلمانی بیش از ۱۰۰ پناهجو را در مدیترانه نجات دادند -------------------------------------------------- 14

چالش‌های مهاجران افغان؛ فیلیپو گراندی با چه هدفی به پاکستان رفته است؟ ------------------------------------ 16


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## رییس امور مهاجرین ولایت ننگرهار، با وزیر امور مهاجرین دیدار کرد

ویب سایت وزارت




**حاجی بازمحمد عبدالرحمن، رییس امور مهاجرین ولایت ننگرهار، با محترم الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین وعودت کننده گان دیدار کرد.**

**در این دیدار رییس مهاجرین ننگرهار معلومات مفصل و دقیق را در مورد فعالیت های انجام شده، کمک به مهاجرین برگشت کننده ، امکانات و خدمات موجود در خط فرضی تورخم و تعدادی از مشکلات دیگری را با وزیر امور مهاجرین به اشتراک گذاشت.**

**محترم حقانی از خدمات وی ستایش نموده و در کارها در زمینه شفافیت و خدمات رفاهی بیشتر برای مهاجرین برگشت کننده بر سهولت های بیشتر تا کید ورزیده و با بیان هدایات لازم در شماری از موارد به رییس مهاجرین آن ولایت از حل مشکلات و معضلات موجود اطمینان داد.**

## د اداري او مدیریت د اساسي اصولو ښوونیز ورکشاپ پای ته ورسید

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت مرکزي رییسانو او خپلواکو آمرینو ته د ادارې او مدیریت د اساسي اصولو تر سرلیک لاندې درې ورځنی ښوونیز ورکشاپ د وزارت د مسلکي مرستیال ښاغلي الحاج مولوي عبدالرحمن راشد له لوري د ملکي خدمتونو د انستیتوت استادانو ته د ستاینلیکونو او ټولو برخه والو ته د سندونو په وېشلو سره پای ته ورسید .**

**دغه ورکشاپ د روان کال د چنګاښ میاشتې پر شپاړسمه د وزارت د غونډو په تالار کې پیل او د ګډونوالو د وړاندیزونو او نظرونو په راټولولو سره پای ته ورسید.**

**په دې ورکشاپ کې د کاري ګروپونو د جوړولو له لارې د ادارې او مدیریت د مفاهیمو پېژندنه، د ادارې بنسټي اصول، د یوې اسلامي ادارې ځانګړنې، د مدیریت کچې، په مختلفو کچو کې د مدیرانو مهارتونه، د مدیرانو مسولیتونه او د مدیریت اصلي عناصر وړاندې شول.**

**د وزارت مرکزي رییسانو او خپلواکو آمرینو په دې ورکشاپ کې وړاندې شوي موضوعات ګټور او ارزښتناک وبلل.**

## ۸ خانواده در ولایت غزنی کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**برای ۸ خانواده  بی بضاعت و بیجاشده در ولایت غزنی مساعدت نقدی بتاریخ  ۱۸ سرطان توزیع شد.**

**کمک یادشده مبلغ ۱۷ هزار و ۷۵۰  افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که هرخانواده آن را پس از شناسایی توسط ریاست مهاجرین آن ولایت دریافت نمودند.**

## بیش از ۲ هزار تن مهاجر از کشور های پاکستان و ایران به کشور برگشت نمودند

ویب سایت وزارت

**دو هزار و ۱۸۰ تن افغان مهاجر به تاریخ ۱۸سرطان از مرزهای پل ابریشم ولایت نیمروز، سپین بولدک ولایت قندهار و خط فرضی تورخم ولایت ننگرهار طور جبری و داوطلب به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات واصله از آمریت های سرحدی ولایات متذکره، ۸۹ خانواده شامل ۴۸۰ تن از خط فرضی تورخم ۲۹ خانواده شامل ۱۴۰ تن از مرز سپین بولدک ولایت قندهار از کشور پاکستان  و یک هزار و ۵۶۰ تن مقیم ایران از طریق پل ابریشم ولایت نیمروز برگشت نموده اند.**

**برگشت کننده گان پس از ثبت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان وسازمان جهانی خوراک معرفی و برای هر خانواده مطابق به طرز العمل امارت اسلامی نیز در سرحدات یاد شده کمک صورت گرفته است.**

## نشست کمیته استقرار مجدد در ولایت بدخشان برگزارشد

ویب سایت وزارت



نشست کمیته استقرار پایدار و ادغام مجدد ولایتی عودت کنندگان و بیجا شده‌ها درولایت بدخشان با تمرکز و برنامه ریزی به منظور اسکان مجدد به متضررین حوادث طبیعی بتاریخ ۱۷ سرطان برگزار شد .

قاری امین الله طیب معاون وسرپرست ولایت گفت: بدخشان از جمله ولایات کوهستانی و آسیب پذیر در برابر رخدادهای طبیعت می باشد و نیاز مبرم است که باشندگان بخصوص روستا نشینان آن در ساحات امن سکونت گزین شوند تا در جریان وقوع حواث طبیعی در امان بمانند و خساره مند نگردند .

وی همچنان از مسؤلین مربوطه خواست با شناسایی مکانهای آسیب پذیر در برابر رخدادهای طبیعی در قسمت اسکان مجدد زمینه‌ها را برای انتقال افرادی که جان آنها با خطر مواجه است مهیا نمایند تا در سال پیش رو از زیان مند شدن آنها جلوگیری گردد .

مولوی محمد یونس جهادمل رئیس امور مهاجرین ولایت بدخشان به مواردی چون اسکان مجدد برای ۸۶ خانواده متضرر قریه های دودگه و دهن آب و ۲۰۰ منزل مسکونی دهی استایان ولسوالی تشکان و همچنین زیان دیدگاه ولسوالی های یمگان و یاوان این ولایت پرداخته از رهبری مقام ولایت و موسسات همکار خواست تا در قسمت انتقال آنها که با خطر سیلاب ها و رویدادهای دیگر طبیعی مواجه هستند همکاری نمایند .

نماینده های مردم ولسوالی های یمگان و تشکان گفتند:آنان بعد از وقوع سیلاب ها در مناطق شان با مشکلات چون، نبود راه مواصلاتی، کمبود خدمات صحی مواجه شده اند و فیصله بعمل آمدکه یک تیم ازادارات دولتی ذیربط جهت دریافت وتثبیت زمین دولتی ویا شخصی بمنظور اعمار سرپناه دائمی به متضررین توظیف و به ولسوالی ها معرفی واعزام گردد.

## بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت بغلان کمک شد

ویب سایت وزارت



**برای ۳۱۵ خانواده برگشت کننده، متضررین ناشی از حوادث طبیعی و بی بضاعت در ولایت بغلان کمک نقدی خوراکی و غیر خوراکی بتاریخ ۱۷ سرطان توزیع شد.**

**کمک متذکره برای ۱۶۲ خانواده کمک نقدی در سه بخش مبلغ ۱۷ هزار و ۷۵۰ افغانی، ۲۱ هزار و ۵۰۰ و ۴۸ هزار و ۵۴۰ افغانی ازجانب موسسه زنان برای زنان افغان و برای ۱۵۳ خانواده دیگر ۴ قلم مواد خوراکی و دو تخته کمپل کمک موسسه پژوهش علمی و توسعه گلوبل ORCDG بود که با نظارت ریاست مهاجرین آن ولایت پس از شناسایی برای خانواده های متذکره توزیع شد.**

## د دوبلین په کروکسلینګ کمپ کې د کډوالو حالت: هغه پندغالی چې «د اوسېدو وړ نه دی»

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



په تېرو څو وختونو کې ایرلنډ او په ځانګړې توګه پلازمېنې ډوبلین ته د راتلونکو کډوالو شمېر د پخوا په پرتله ډېر شوی دی. له دې سره د سرپناه مسله د کډوالو په یوه لویه ستونزه بدله شوې ده. که څه هم چارواکي وايي هڅه یې کړې چې اړمنو مهاجرو ته د هرکلي په مرکزونو کې سرپناه ورکړي او د دې ستونزې د هوارولو لپاره یې نوې پالیسي جوړه کړې ده، خو هغه کډوال چې کروکسلینګ کمپ کې ځای پر ځای شوي دي په دغه پنډغالي کې د ژوندانه له مناسبو شرایطو څخه شکایت لري. له ډوبلین څخه ځانګړی راپور.

جمشید* د سنت بربج هوم د زرغونې دروازې مخې ته خپل بایسکېل دروي. اوس د غرمې شاوخوا یوه بجه ده. د ډوبلین په کروکسلینګ سیمه کې هوا یخه او وریځه ده او ورو ورو باران ورېږي. جمشید وايي: «حال ته مې وګوره. ډېر ستړی یم. له کاره راغلی یم.» دغه دوه دېرش کلن افغان کډوال چې کلونو وړاندې یې د افغانستان په پوځ کې دنده ترسره کړې او له زیات وخت راهیسې د کډوالۍ پر لارو سرګردان دی، ایرلنډ کې د مهاجر په توګه منل شوی دی. هغه وايي: «ټول اسناد راسره شته، خو دې کمپ ته یې واستولم. پنځه لس شپاړلس کسان تر یوې خیمې لاندې اوسېږي. خلک ډېر غالمغال کوي او څوک نظافت ته توجه نه کوي. کله چې باران ورېږي، اوبه خیمې ته دننه کېږي«.

د دغه افغان مهاجر په څېر ګڼ شمېر نور کډوال هم د سنت بربج هوم په نوم پنډغالي کې اوسېږي چې غرونو ته نږدې موقعیت لري او عربي ژبې مهاجر ورته د «جبل» [په عربي کې غره] خطاب کوي. ډېری دغه کسان منل شوي کډوال نه بلکې ډوبلین ته تازه رسېدلي پناه غوښتونکي دي او تر اوسه یې قبولي نه ده ترلاسه کړې.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**W**

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د کروکسلینګ کمپ ساتونکی، د ۲۰۲۴ د جولای ۴. انځور: کډوال نیوز

پنځه ویشت کلن داوود* یو له دغو پناه غوښتونکو دی چې له تېرو دوو ورځو راهیسې سنت بربج هوم کمپ کې ژوند کوي. نوموړي شاوخوا یوه اونۍ مخکې له برېتانیا څخه ځان ډوبلین ته رسولی او څو شپې یې د ګراند کانال په مهاجر کمپ کې تېرې کړې دي. داوود وايي: «دوه ورځې مخکې ایمېل راغی. فکر مې کاوه چې دې کمپ کې به حالت ښه وي. خو اوس چې ګورم هماغه پخوانی ځای ښه و.» هغه نه یوازې کمپ کې د نظافت له نشتوالي بلکې له نورو مشکلاتو څخه هم شکایت لري: «شپاړلس کسان یوه خیمه کې ځای پر ځای شوي دي. خلک د شپې زیات شور او غالمغال کوي او څوک سم خوب نه شي کولی. دلته مهاجرو ته ښه او کافي خواړه نه ورکول کېږي«.

داوود په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له واکمنېدو سره سم د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوی او له کلونو سفر وروسته ډوبلین ته رسېدلی دی. هغه وايي چې غوښتل یې په فرانسه کې پاتې شي، خوغوښتنه یې رد شوه او له مجبورۍ برېتانیا او ورپسې ایرلنډ ته راغی: «خو دلته هم وضعیت ښه نه دی او مناسبه سرپناه نشته.» دغه ځوان مهاجر زیاتوي چې د کډوالو اصلي ستونزه د کمپ او د ښار ترمنځ فاصله ده» :نن سهار مې [د کډوالۍ له ادارې سره] د ملاقات وخت درلود. تېره شپه مې سم خوب نه و کړی، خو له دې سره سره د سهار په ۵ بجو راویښ شوم ترڅو ځان د ملاقات ځای ته ورسوم. دا څنګه ژوند شو؟«



سنت بربج هوم کې د کډوالو خیمه. انځور: دي آر

»له شدیدو هڅو سربېره» د سرپناه کموالی

نن سبا ایرلنډ او په ځانګړې توګه ډوبلین کې د سرپناه ستونزه په یوه جنجالي مسله بدله شوې ده. د ایرلنډ چارواکي د دې ستونزې اصلي لامل د هغو راتلونکو کډوالو د شمېر ډېرېدل بولي چې د بېلابېلو دلایلو له امله له برېتانیا څخه ځانونه دغه ټاپو ته رسوي. د کډوالو چارو ادارې یوه ویاند د کډوال نیوز د پوښتنې په ځواب کې لیکلي چې یوازې د ۲۰۲۴ په لومړیو ۲۵ اونیو کې شاوخوا لس زره کډوال ایرلنډ ته اوښتي دي او د سرپناه غوښتنه یې کړې ده. هغه زیاته کړې چې په اونۍ کې د سرپناه غوښتونکو شمېر ۶۰۰ تنو ته هم لوړ شوی دی.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**که څه هم دغه چارواکی ټینګار کوي چې حکومت د دې ستونزې د حل لپاره یو شمېر اقدامات کړي او کډوالو ته په بېلابېلو جوړښتونو کې یې د لومړیتوب پر اساس سرپناه برابره کړې ده، خو د ماشومانو، برابری، معلولیت، ادغام او ځوانانو وزارت وبسایټ کې راغلي دي چې »له شدیدو هڅو سربېره» دغه اداره نه شي کولی چې د ځای د «کمښت» له امله ټولو خلکو ته سرپناه ورکړي.**

**د یاد وزارت اوونیزو راپورونو کې د ایرلنډ په بېلابېلو ښارونو کې د هرکلي د مختلفو مراکزو په اړه معلومات ورکړل شوي دي. په ډوبلین کې مهاجر معمولاً کروکسلینګ او یا په نادرو حالاتو کې سټي وېست ترانزیټ هب ته استول کېږي .په لومړي مرکز کې کډوال تر غټو خیمو لاندې ژوند کوي خو دویم ځای کې بیا مهاجرپه ودانیو کې ځای پر ځای کېږي.**



**کډوال وایي چې د باران د ورېدو په صورت کې دغو خیمو ته اوبه ننوځي. انځور: دي آر**

**دوه ګونی چلند او ناڅرګند حالت**

**ډوبلین کې مدني فعاله الیویا هیدن کډوال نیوز سره خبرو کې وایي چې کډوال د سرپناه د موندلو لپاره اړ دي چې ځان خلکو او چارواکو ته «وښیي». یا په بل عبارت، د سړکونو پر غاړه خیمې ودروي او تر شنه اسمان لاندې شپې ورځې تېرې کړي ترڅو »ولیدل شي». ګرېن جونز یوه بله مدني فعاله ده چې ډوبلین کې له کډوالو سره مرسته کوي. هغه د الیویا هیدن د خبرو په تاییدولو**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

سره وايي چې کډوال بېلابېل ځوابونه ترلاسه کوي: «ځينو کسانو ته له دوو درېو ورځو خو ځينو نورو ته بيا تر اونيو انتظار وروسته سرپناه ورکول کېږي».

بله ستونزه هم دا ده چې څوک نه پوهېږي چې کوم مرکز ته استول کېږي (او ولې): کروکسلينګ يا سېټي وېست ترانزيټ هب.

له سنت برېچ هوم څخه تر سېټي وېست ترانزيټ هب پورې په موټر شاوخوا لس دقيقې فاصله ده. دغه مرکز له څو ودانيو څخه جوړ شوی دی چې يوه برخه يې اکراينيانو خو بله برخه يې بيا د نورو هېوادونو وګړو ته ځانګړې شوې دي. حازم* د فلسطين تبعه دی او د روان کال د می له لومړی نېټې راهيسې په دغه ودانی کې اوسېږي. هغه چې ۲۹ کاله عمر لري او يوه مياشت يې د سړکونو پر غاړه تېره کړې وايي: «دلته د خوړو کيفيت ښه دی خو تنوع پکې نشته. شاوخوا ۴۰ کسان په يوه لويه کوټه کې ځای پر ځای شوي دي. هر کس ته يو چپرکټ ورکړل شوی دی او چپرکټونه د پلاستيک په وسيله له يو بل څخه جلا شوي دي».



د وېست سېټي په هر سالون کې شاوخوا ۴۰ کسان ځای پر ځای شوي دي. انځور: دي آر

حازم زياتوي چې مرکز کې د غلا پېښې زياتې دي او خلک وېره لري چې خپل موبايلونه يا پيسې به له لاسه ورکړي: «نه پوهېږم چې څومره وخت به دلته پاتې کېږم .ځينې مهاجر د يوې مياشتې په موده کې ځواب ترلاسه کوي، ځينې نور په مياشتو مياشتو د چارواکو ځواب ته انتظار باسي. موږ دلته يوازې د شپږو مياشتو لپاره د پاتې کېدو اجازه لرو، وروسته بيا نورو مرکزونو ته استول کېږو».

حازم هغه هوټل ته اشاره کوي چې اکراینیانو ته ځانګړی شوی او وايي چې اکرایني کډوال زیاتو امکاناتو ته لاسرسی لري، په میاشت کې د حکومت له خوا زیاتې پیسې ورکول کېږي، خواړه یې مناسب دي: «دغه وضعیت ته چې ګورم په غوسه کېږم .له اکراینیانو سره په ټولو هېوادونو کې ښه او متفاوت چلند کېږي، خو زموږ حال ته وګوره«.



دغه هوټل اکرایني کډوالو ته ځانګړی شوی دی، د ۲۰۲۴ د جولای ۴. انځور: کډوال نیوز

»له راتلونکي څخه ډارېږم«

هغه وضعیت چې حمزه ترې شکایت کوي د یو شمېر نورو کډوالو لپاره آرماني حالت دی .حاتم* یو بل فلسطینی دی چې د ډوبلین په جنوبي برخه کې د ګراند کانال په اوږدو کې کې تر خیمې لاندې ژوند کوي. دغه ۲۱ کلن فلسطینی چې ډوبلین ته له رسېدو وروسته یې دوه شپې په سېټي وېست ترانزیټ هب کې تېرې کړې وايي کله یې چې د پناه غوښتنه وکړه فکر یې کاوه چې همدې ځای ته به بېرته واستول شي، خو چارواکو ورته وویل چې رسمي ځواب ته یې انتظار وکړي. په دغه رسمي ځواب کې لیکل شوي وو چې هغه باید سېټي وېست ترانزیټ هب ته نه بلکې سنت بربج هوم ته لاړ شي.

حاتم وايي: «سېټي وېست کې خالي چپرکټونه زیات وو، خو دغه بل کمپ ته یې واستولم. یوه شپه مې پکې تېره کړه او ترې را ووتلم. سنت بربج هوم د اوسېدو وړ نه دی. هره ورځ ایمېل راځي چې هلته لاړ شو، خو موږ همدلته [د ګراند کانال په اوږدو کې] پاتې کېږو.» حاتم زیاتوي چې کمپ کې څوک نظافت ته پاملرنه نه کوي، «په ځانګړي توګه په تشنابونو کې». د هغه په وینا: «که څوک د سږي هوا له امله ناروغ نه شي، د بې نظافتۍ له امله به خامخا په بېلابېلو ناروغیو اخته شي«.



حاتم یوازې یوه شپه کروکسلینګ کې تېره کړې ده او اوس د سړک پر غاړه شپې سبا کوي، د ۲۰۲۴ د جون ۴. انځور: کډوال نیوز

جمشید او داوود دواړه د حاتم له خبرو سره موافق دي. جمشید چې قبولي یې ترلاسه کړې کمپ ته څېرمه په یوه فابریکه کې کار کوي. دغه کډوال وايي: «افغانستان کې مې کورنۍ له ګواښ سره مخ ده، دلته زه له مشکلاتو سره لاس او ګرېوان یم .دوه کاله کېږي چې په دغه هېواد کې ژوند کوم، خو لا هم یوه شخصي کوټه نه لرم او له نورو سره تر خیمې لاندې شپې سبا کوم. له ژونده ښېخي تنګ راغلی یم«.

داوود وايي: «نه پوهېږم چې دا حالت به څومره دوام وکړي. دا هم معلومه نه ده چې زه به تر کومه وخت پورې په خیمو او کمپونو کې ژوند وکړم. وېره لرم چې وضعیت به تل همداسې روان وي. زه له راتلونکي څخه ډارېږم«.

## د بریټانیا نوی لومړی وزیر وايي روندا ته د کډوالو د استولو پروګرام لغوه کوي

مهاجرنیوز




د برېتانیا نوي لومړي وزیر کیېر ستارمر د شنبې په ورځ یوې خبري غونډې ته وویل چې روندا ته د کډوالو د استولو پروګرام لغوه کوي. نوموړي د ټاکنیزو کمپاینونو په جریان کې پر دغه پروګرام نیوکه کړې او ژمنه یې کړې وه چې د بریا په صورت کې به پرې چلیپا راکښ کړي .

د برېتانیا نوي لومړي وزیر کیېر ستارمر د شنبې په ورځ، د جولای په شپږمه، د وزیرانو د شورا له غونډې وروسته یو مطبوعاتي کنفرانس ته وویل چې دغه پروژه له پیل او عملي کېدو مخکې «مړه او ښخه شوې» او غیر موثر و. هغه زیاته کړه: «زه چمتو نه یم هغه برنامې عملي کړم چې بې اغېزې دي«.

د کارګر ګوند مشر واک ته له رسېدو مخکې روندا ته د کډوالو د استولو له شخړیز پلان سره مخالفت ښودلی او ویلي یې و چې دغه »ګرانه او بې اغیزه» پروژه به لغوه کړي.

د برېتانیا پارلمان څو میاشتې مخکې روندا ته د مهاجرو استولو قانون تصویب کړ. دا وروسته له هغه چې د برېتانیا عالي محکمې د ۲۰۲۳ په پای کې یو بل تقنیني سند چې هغه هم روندا ته د مهاجرو استولو په اړه و غیرقانوني وباله.

د دغه هېواد پخواني لومړي وزیر ریشي سونک غوښتل چې ټاکنو کې د بریالي کېدو په صورت کې روندا ته د کډوالو د استولو پروګرام پیل کړي. امنیتي چارواکو د می د میاشتې په پیل کې د هغو کډوالو نیول پیل کړي وو چې تمه کېده روندا ته واستول شي . خو قضایي قوې بیا د برېتانیا سیاسي وضعیت او راتلونکو ټاکنو ته په کتو سره د لسګونو نیول شویو مهاجرو د خوشي کېدو امر وکړ.

دا هم ولولئ

د بریتانیا په ټاکنو کې د کارګر ګوند بریا او د کډوالۍ په اړه د دوی پلانونه

له نامنظمې کډوالۍ سره مبارزه

نامنظمه کډوالۍ په دغو ټاکنو کې له مهمو او جنجالي موضوعګانو یوه وه. د کارګر ګوند استازو د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال ژمنه کړې وه چې له نامنظمې کډوالۍ او په ځانګړې توګه د انګلیس کانال له لارې بریتانیا په کښتیو کې د نامنظمو سفرونو پر وړاندې اقدامات وکړي.

د بریتانیا نوی حکومت غواړي چې له قاچاق وړونکو سره د مبارزې لپاره له هغو امکاناتو کار واخلي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ترې کار اخیستل کیږي. چارواکي همدارنګه په پام کې لري چې له اروپا او په ځانګړې توګه فرانسې سره همکاري زیاته او لا پیاوړې کړي

کییر استارمر همداراز ژمنه کړې چې د بریتانیا د پناه غوښتنې سیستم کې به اصلاحات رامنځته کړي او د کډوالو د دوسیو د اروزنې لپاره سلګونه ټولنیز کارکوونکي په کار وګوماري. د یو پارلماني راپور له مخې، د ۲۰۲۳ په جون میاشت کې ۲۱۵ زره پناه غوښتونکي په دغه هېواد کې د خپلو دوسیو ځواب ته په تمه وو.

د روان کال له پیل راهیسې تر ۱۳۵۰۰ زیات کډوال د انګلیس کانال له لارې په وړو کښتیو کې ځانونه بریتانیا ته رسولي دي. په ورته مهال سږ کال کې تر دې دمه د فرانسې او بریتانیا ترمنځ اوبو کې د مړو شمېر ۱۶ تنو ته رسیږي .

## دو کشتی آلمانی بیش از ۱۰۰ پناهجو را در مدیترانه نجات دادند

دویچه وله

دو کشتی نجات آلمانی در یک عملیات مشترک حدود ۱۰۰ پناهجو و مهاجر را از حالت اضطرار در مدیترانه نجات دادند. در مورد هویت نجات داده شدگان و یا کشورهای مبدا آنها چیزی گفته نشده است .




سازمان «ریس‌کیو شیپ (Resqship) «در هامبورگ در شبکه ایکس (توییتر سابق) نوشت که شب دوشنبه حدود ۵۰ تن از یک قایق بادی به شدت پر که در مدیترانه با حالت اضطراری مواجه شده بودند، خواستار کمک شدند.

به گفته این سازمان، کشتی نظارتی «نادیر» حدود نیمی از این پناهجویان را از قایقی که در معرض واژگونی قرار داشت، نجات داد و به مکانی امن منتقل کرد.




**بعداً کشتی موسوم به «چشم دریا ۴ (Sea-Eye 4)» به کمک شتافت و سرنشینان باقی مانده این قایق را به عرشه خود انتقال داد.**

**یک روز پیش نیز کشتی نادیر به کمک یک قایق رابری مواجه با حالت اضطراری شتافت، تا اینکه کشتی «چشم دریا ۴» به محل رسید و همه ۶۰ سرنشین این قایق را نجات داد.**

**در مورد هویت این پناهجویان و یا کشورهای مبدای آنها چیزی گفته نشده است. در این گزارش به کشور مقصد سفر مهاجران نیز اشاره‌ای نشده است.**

**مدیترانه یکی از خطرناک‌ترین مسیرهای سفر دریایی در جهان است. پناهجویان اغلب به امید دستیابی به یک زندگی بهتر سفر خطرناک از طریق مدیترانه را با قایق‌های فرسوده و کهنه در پیش می‌گیرند.**

**مطالب ویدیویی را در صفحه یوتیوب ما ببینید!**

**بر اساس معلومات سازمان بین المللی مهاجرت «آی او ام» از آغاز سال روان میلادی دست کم ۱۰۵۶ پناهجو حین عبور از این مسیر جان باخته و یا ناپدید شده اند. در سال ۲۰۲۳ این رقم دست کم ۳ هزار و ۱۵۵ تن بود.**




**چنانچه سازمان بین المللی مهاجرت گفته است، از سال ۲۰۱۴ تا کنون، یعنی در ده سال اخیر بیش از ۲۰ هزار تن حین عبور از این مرگبارترین مسیر مهاجرت جان باخته اند.**

## چالش‌های مهاجران افغان؛ فیلیپو گراندی با چه هدفی به پاکستان رفته است؟

طلوع نیوز

**مهاجران افغان در پاکستان همچنان گفته‌اند که با چالش‌های جدی اقتصادی و اجتماعی در این کشور روبه‌رو اند**



فیلیپو گراندی کمیشنر عالی پناه‌جویان سازمان ملل متحد برای گفت‌وگو پیرامون چالش‌های مهاجران افغان به پاکستان رفته و با شماری از مهاجران افغان در آن کشور دیدار کرده است.

آقای گراندی در دیدار با مهاجران افغان به آنان گفته است که پیرامون چالش‌های آنان، در این سفر سه روزه با مقام‌های پاکستانی گفت‌وگو خواهد کرد.

طاهرخان خبرنگار پاکستانی به طلوع‌نیوز گفت: «گفته می‌شود که کمیشنر عالی ملل متحد در امور پناهندگان با نخست‌وزیر و وزیر خارجه نیز ملاقات خواهد کرد«.

برخی از مهاجران افغان در پاکستان ابراز امیدواری می‌کنند که کمیشنر عالی پناه‌جویان سازمان ملل متحد درباره رفع چالش‌ها با مقام‌های پاکستانی به توافق برسد.

مهاجران افغان در پاکستان همچنان گفته‌اند که با چالش‌های جدی اقتصادی و اجتماعی در این کشور روبه‌رو اند.

نظر شهروند افغانستان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفته است: «خواست ما از ملل متحد و حکومت افغانستان این است که با پاکستان مذاکره کنند تا به کارت‌های ما وقت بیشتر داده شود«.

محمدباقر احمدی فعال عرصه حقوق مهاجران می‌گوید: «اداره یوان‌اچ‌سی‌آر پاکستان از سه سال بدین‌سو ادعا دارد که حکومت پاکستان به آن‌ها اجازه توزیع هر گونه کارت اقامتی را نمیدهد و این ادعا را حتی رییس یوان‌اچ‌سی‌آر پاکستان در ملاقات با ما هم تکرار کرد«.

در سوی دیگر وزارت مهاجران و عودت کننده‌ها از کمیشنری عالی پناه‌جویان سازمان ملل متحد خواسته است تا از نفوذ خود در جلوگیری از اخراج اجباری مهاجران افغان از کشورهای میزبان کار گیرد.

عبدالمطلب حقانی سخن‌گوی وزارت مهاجران و عودت کننده‌ها گفت: «ملل متحد وجامعه جهانی باید با استفاد از نفوذ خود بر تمام کشورهای میزبان فشار بیاورد تا در آن‌جا حقوق اساسی آن‌ها (مهاجران) حفظ شود».

پیش از این منیر اکرم نماینده دایمی پاکستان در سازمان ملل متحد گفته بود که اسلام‌آباد امیدوار است یک اعشاریه پنج میلیون مهاجر ثبت‌شده افغان به‌زودی با پشتیبانی مالی سازمان ملل متحد به کشورشان برگشت داده شوند.

خبرنامه